# د افغاني سرې میاشتې ټولنې

# د بشرپالو پروګرامونه پېژندنه




۱۳۹۷ هـ.ل کال

# د افغاني سرې میاشتې ټولنې تاریخچه

د لومړي ځل لپاره د هیواد په تاریخ کې په ۱۳۰۸ لمریز کال کې د کابل بلدیې(ښاروالی) په هڅه د کابل په عمومي بڼ کې د هیواد د ټولو اقشارو او خیرپالو خلکو په ګډون یوه غونډه جوړه شوه، چې د سلا مشورو په پایله کې د ((مرکزامداد اولیه)) په نوم د یوې کوچنی خیرپالې ټولنې بنسټ کیښودل شو. په دې غونډه کې د هیواد ټولو اقشارو څخه شل کسه،د غړي په توګه او محمد ابراهیم خان ددې بنسټ د ریئس په توګه وګمارل شو. ددې ټولنې د رامنځته کولو څخه موخه هغو خلکو ته مرسته وه چې د طبیعي پیښو له امله زیانمن کیدل، ترڅنګ یې نورو اړمنو خلکو سره هم مرسته کوله. ددې بنسټ د پیاوړتیا لپاره د وخت پادشاه محمد نادر شاه دیرش زره افغانۍ له خپلې شخصي شتنمۍ څخه مرسته وکړه، ترڅو ټول هیوادوال دا شان خیرپالنې ته تشویق او وهڅوي او له دې نوې رامنځته شوې ټولنې سره مرسته وکړي. په ۱۳۱۱ لمریز کال کې، په لاهه کې د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ کنفرانس د غوښتنې پربنسټ، د افغانستان دولت څخه په هیواد کې د سرې میاشتې ټولنې د رامنځته کولو غوښتنه وشوه، مرکز امداد اولیه د محراب احمر په نوم خپل نوم بدل کړ او د مالیې وزارت په چوکاټ کې یې فعالیت کاوه. سره میاشت په ۱۳۱۳ لمریز کال کې چې د ۱۹۳۴ م کال سره سمون لري د عامې روغتیا وزارت څخه جلا او خپلواکي یې ترلاسه کړه، په حقیقت کې د ملي ټولنې د تاسیس کال ۱۳۱۳ لمریزکال ښودل شوی دی.

د سرې میاشتې لپاره په ۱۳۳۰ کال کې اساسنامه ترتیب او په دې توګه یې د ملي ټولنې د رسمیت پیژندنې لپاره د غورځنګ شرایط پوره کړل چې له امله یې په ۱۹۵۴/۹/۲ نیټه کې د سره صلیب نړیوالي کمیټې لخوا په رسمیت و پیژندل شوه او په ۱۹۵۴/۱۱/۱۱ نیټه کې د ملي ټولنو نړیوال فدراسیون لخوا د غړي په توګه ومنل شوه.

# د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ بنسټیز اصول

۱. **بشرپالنه**: د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ، د جګړې د ډګر تېپیانو ته له تبعیض څخه پرته د مرستې رسونې هیلې پر بنسټ رامنځته شوې. په خپل ملي او نړیوال ماموریت کې هڅه کوي ترڅو بشري رنځونه او دردونه په هرځای کې چې وي مخنیوی او را کم کړي. موخه یې د انسان د ژوند روغتیا او هغه ته د درناوي د تامینولو ملاتړ دی. دا غورځنګ د خلکو ترمنځ متقابله پوهیدنه، دوستي، همکاري او تلپاتې سولې ته، پراختیا ورکوي.

۲. **ناپیلتوب**: دا غورځنګ ملیت، توکم، طبقې، دیني او مذهبي عقایدو او سیاسي نظریاتو ته امتیاز نه ورکوي او هڅه کوي ترڅو د خلکو درد او رنځ د هغوی د اړتیاوو او بیړنیو مصیبتونو ته د لومړیتوب ورکولو په پام کې نیولو سره تسکین ورکړي.

۳. **ناپلوي**: د ټولو د باور د ترلاسه کولو او خوندي ساتلو لپاره، دا غورځنګ په شخړو کې د هیڅ یوه لوري پلوي نه کوي او په سیاسي، توکمیز،دیني او مذهبي او ایډیالوژیکو تاوتریخوالو کې خپل ځان نه ښکیلوي.

۴. **خپلواکي**: دا غورځنګ خپلواک دی. سره له دې چې ملي ټولنې په بشرپالو خدمتونو کې د خپلو حکومتونو مرستندوی او د خپلو متبوع هیوادونو د قوانینو تابع دي، تل باید خپله خپلواکي وساتي. نو په دې بنسټ هغوی به وتوانیږي چې هر مهال د غورځنګ د اصولو سره سم عمل وکړي.

۵. **د خپلې خوښې خدمتونه**: سورصلیب او سره میاشت یو د خپلې خوښې مرستندویی غورځنګ دی او له هیڅ کومې لارې څخه د ګټې په لټه کې نه دی.

٦. **یووالی**: په هر هیواد کې کولای شي یواځې د سره صلیب او سرې میاشتې یوه ملي ټولنه شتون ولري. دا ټولنه باید د ټولو پرمخ خلاصه وي، خپل بشرپال خدمتونه په ټول هیواد کې پر مخ یوسي.


۷. **نړیوالتوب**: د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ، چې په ټولو

ټولنو کې د یوشان مقام لرونکي دي او یو بل سره په مرسته کې یوشان دندې او مکلفیتونه په غاړه اخلي، نړیوال دی.

## نښان

د افغانۍ سرې میاشتې ټولنې نښان لکه څرنګه چې له نوم څخه یې جوتیږي، سره میاشت په حقیقي توګه باید په سپینه ځمکه کې شتون ولري. چې د افغانۍ سرې میاشتې ټولنې هویت او پیژندګلوي او د پیژندګلوۍ وسیله ده چې د تشخیص او ملاتړ په موخه کارول کیږي. د سرې میاشتې نښان له توپیر څخه پرته د طبیعي او جګړیزو پیښو زیانمنو ته په ناپلوه توګه د ملاتړیزو خدمتونو د وړاندې کولو سمبول او نښه ده.

په داسې حالاتو کې د افغانۍ سرې میاشتې ټولنې کارکوونکي، تأسیسات، وسایط، مرستندوی توکي، خیرندوی توکي او اسناد په نښان باندې مزین دي، ترڅو له نورو ارګانونو او مؤسسو څخه یې توپیر او په آسانۍ سره د پیژندنې وړ وي. او له بلې خوا د جنیوا د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو قراردادونو او ورسره مل د ۱۹۷۷ کال ضمیموي پروتوکونو له امله، د سرې میاشتې نښان له خوندیتوب څخه برخمن دی.



## د پېښو اداره:

د پېښو اداره د افغاني سرې مياشتې ټولنې يوه له اړينو څانګو څخه ده چې ددې ادارې له لارې پېښو ته د ځواب ورکولو په عملياتو کې د هېواد په کچه د طبيعي او غير طبيعي پېښو زيانمنو ته مرسته ترسره کېږي.





**له پیښو څخه د وزګارتیا په بهیر کې ظرفیت جوړونه:**

د کارکوونکو او رضاکارانو روزنه او ظرفیت جوړونه، د ملي ټولنې د خدمتونو وړاندې کول پیاوړي کوي. او دغه کار کولای شي په زیان منونکو سیمو کې د لاډېرو زیانونو مخنیوی وکړي.



## پېښو ته د ځواب ورکولو لپاره چمتووالی

د پېښو رامنځته کوونکو سیمو پېژندنه، د رضاکارانو ښوونه او روزنه، پېښو سره د مبارزې لپاره د خلکو پوهاوي د کچې لوړتیا او د اغېزمنو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له اړوندو ټولنو سره همغږي، د پېښو رامنځته کېدو مخکې د پېښو د مدیریت له برنامو څخه شمېرل کېږي.



**د پېښو په لړ کې(بېړني حالات)**

د ملـــي ټولنـــې د پېښــو اداره د پېښـــې د رامنځتــه کېـدو پـه لـړ کـې زيانمنـې سـيمې تـه پـه وخـت سـره وردانګـې او د قربانيانـو د ځـان ژغورنـې لپـاره عمـل کـوي. سـيمې تـه د کارکوونکـو او رضاکارانـو بيلابيـل ټيمونـه اسـتول کيـږي، او لـه زيانمـو سـره مرسـته ترسـره کيـږي.



## پلټنه او لارموندنه

پـه ملـي ټولنـه کـې ددې ځانګـې د رامنځتـه کيـدو موخه، لـه کورنيـو سـره د نادرکـه شـويو، اسـيرانو او بيځايه شـويو کسـانو ترمنـځ د اړيکـو ټينګول دي.




## روغتیایي خدمتونه

د افغانـــي ســـرې میاشـــتې ټولنـــې د روغتیایـــي خدمتونـــو خانګـــه هڅـــه کـــوي ترڅـــو د روغتیـــا د لاســـه والـــي لپـــاره زیانمنـــو خلکـــو تـــه روغتیایـــي خدمتونـــه تـــر ســـره او لـــدې لارې بشـــري دردونـــه او مصیبتونـــه راکـــم کـــړي.





## د ثابتو روغتیايي کلینیکونو پروژه

د افغانـــي ســـرې میاشـــتې ټولنـــه پـــه ولایتونـــو کـــې ۴۷ ثابـت کلینیکونـه رامنځتـه کـړي دي چـې د عامـې روغتیـا وزارت لـه سـتنډرډونو سـره سـم فعالیـت کـوي. پـه دغـو مرکزونـو کـې پـه زرګونـه بیوزلـي هیـوادوال لـه دغـو خدمتونـو څخـه ګټـه اخلـي او تـر وړیـا درملنـې لانـدې نیـول کیـږي.




## په بیړنیو حالاتو کې د عامه روغتیا پروژه(ګرځنده روغتیایي کلینیکونه)

ګرځنده روغتیایي ټیمونه د ملي ټولنې یو له اړینو ځانګړو څخه دي چې د طبیعي پیښو زیانمنو او کورني، بیځایه شویو او هغه شمیر هیوادوال چې په لیرې پرتو سیمو کې ژوند کوي او روغتونونو ته لاس رسی نه لري؛ روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.




## وقايوي پروژه (HIV-AIDS)

د HIV-AIDS وقايوي پروګرام د (وقايې) تر شعار لاندې د خوندي ژوند ساتنې لپاره ټولنې ته ښوونيزې برنامې جوړوي. دا فعاليتونه د ناروغۍ څخه د ځان ساتنې، نښو او د خپريدو د لارو چارو پيژندنه په برکې نيستي.




**د روغتونونو پروژه:**

د ملــي ټولنــې د روغتیایــي خدمتونــو څانګــه پــه کابــل کــې یــو ســمبال اویــا بســتریزه روغتــون ســره لــه طبــي مدرنــو وســایلو او پــه پــروان ولایــت کــې د مخــدره توکــو روږدو کســانو د درملنــې لپــاره یــو روغتــون جــوړ کــړی دی. پــه دغــو مرکزونــو کــې پــه ورځینــي توګــه د ســلګونو هیوادوالــو درملنــه کیــږي.



## د زړه سورى

د زړه په ولادي ستونزو باندې د اخته ناروغو ماشومانو د درملنې د پروسې له پيل څخه تر اوسه پورې د افغاني سرې مياشتې ټولنې د روغتيايي خدمتونو رياست کې ۱۳۲۷۲ تنه ثبت او راجستر شوي دي چې تر اوسه د هيواد په دننه او بهر روغتونونو کې د ٦٧٥۰ تنو ماشومانو درملنه شوې او روغتيا يې هم ترلاسه کړې ده. د هر ناروغ ماشوم د درملنې لګښت له ۲۵۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ امريکايي ډالر کيږي، دا پيسې د افغاني سرې مياشتې ټولنې بودې څخه، د افغانستان او د چين د سره صليب بنسټ بشاغلو حاجيانو څخه چې له دې مرستو څخه ۱۰۰۰۰۰۰ (يو ميليون امريکايي ډالر) په افغانستان کې د هند سفارت لخوا ورکړ شوي دي.




## د CBHFA پروګرام (ټولنه کې لومړنی روغتیايي مرستي)

د ملي ټولني يو له بنسټيزو خانګو څخه، د ټولني په کچه لومړنی روغتيايي مرستي دي. د لومړنيو روغتيايي مرستو پروګرام د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې فعاليت لري چې ۲۵۰۰۰ رضاکاران يې روزلي او د روغتيايي خدمتونو په وړاندې کولو لګيا دي.




## ځوانان او رضاكاران

د خپلي خوښي خدمتونه او رضاكاري، د سره صليب نړيوال غورځنګ او د ملي ټولنو د بنسټ رامنځته كول دي. د افغاني سرې مياشتي ټولني رضاكاران په بيلابيلو برخو كي روزل شوي دي او په وخت سره د زيانمنو ملتيا ته وردانګي.





## د سپورټ او بدني روزنې کميټه:

د سپورټ او بدني روزنې کميټه د ځوانانو او رضاکارانو د رياست په چوکاټ کې فعاليت کوي. ددې کميټې موخه د سپورټ له لارې د سرې مياشتې د بشرپالو اصولو او هويت پيژندنه ده.




## د غړیتوب سیستم

ددې سیستم له لارې تردې دمه په زرګونو هیوادوالو د افغاني سرې میاشتې ټولنې د غړیتوب ویاړ ترلاسه کړی او دا د ملي ټولنو د بشرپالو خدمتونو پیاوړی ملاتړ بلل کیږي.




**مرستون(د ټولنيزې هوساينې مرکز)**

د مرستون د رامنځته کولو بنسټيزه موخه، د هغه شمير بيوزلو کورينو او بې وسه کسانو ساتنه او ژغورنه ده چې آن په ټيټه کچه هم د ژوند د تيرولو، وس نلري.

په دې مرستونو کې د مشمولينو ماشومانو ته د ژوند د آسانتيا او ترخنګ د عصرى او حرفوى زده کړو زمينه هم برابره شوى تر څو هغوى په ګټې اخيستنې سره د خپل ځان او کورنۍ د راتلونکې ژوند چارى د مرستون څخه د باندې پرمخ بوتلې شي.




## د آلمان دسولې کلی

دافغانــی ســرې میاشــتې تولنــې او د آلمــان دســولې کلــي د هوکــړه لیــک پربنســټ، تــر اوســه پــوری شــپږ زره ماشــومان چــه دهډوکــي پــه ماتیدونکــو ناروغــۍ اختــه وو د آلمــان پــه هیــواد کــې تــر درملنــې لانــدې نیــول شــوي، او بیرتــه روغ رمــټ خپلــو کورنیــو تــه راســتانه شــوي دي.

د اړیکې شمیرې: ۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳ / ۰۷۹۹۶۵۲۸۹۳

پوسټ بکس: ۳۰۶۶

برښنالیک پته: dis@redcrescent.af

ویب پاڼه: www.redcrescent.af

**افغانستان، کابل، پنځمه ناحیه، افشار سیلو، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر**




پروگرام وقایوی HIV/AIDS


مرستون

